# د غزلو کِتاب

## پېژندګلو

دا د حضرت سليمان عليه السلام غزلې دی چې د ښځې او د خاوند په مينځ کښې د روحانی او جنسی مينې او محبت په حقله څرګندونه کوی. د وادۀ نه پس د ښځې او خاوند جنسی تعلق د خُدائ پاک د مينې اظهار دے. ښځې او خاوندان دې د يو بل د ښو کارونو تعريف کوی او د يو بل ډاډګيرنه دې کوی. د کامياب وادۀ دپاره د ښځې او خاوند تر مينځه صلاح مشوره او مسلسل رابطه کښې اوسېدل ډېر ضروری دی. وخت تېرېدو سره سره د دوئ په مينځ کښې مينه نوره هم مضبوطېږی کۀ چرې دواړه د يو بل سره وفادار پاتې شی او تعلق هم برقرار وساتی. خُدائ پاک د وادۀ بنياد کېښودو او جسمانی اِتحاد يې جوړ کړو. د حفظ کولو دپاره ۱:۲ آيت ”زۀ لکه د شارون د ګلاب په شان يمه، او په پټو کښې د لاله د ګل په شان يمه.“

## اول سرود

۱ ۱ د حضرت سليمان خواږۀ سرودونه.

محبوبه

۲ بيا بيا مې په خپلو شونډو سره ښُکل کړه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ستا مينه د ميو نه زياته مزه کړينه.

٣ ستا د عطرو خوشبوئی ښومره ښُکلې ده،

ستا نوم لکه د هغې د خوشبو په شان ده.

نو ځکه ټولې پېغلې په تا مئينې دينه

٤ زر شه، ما د خپل ځان سره بوځه،

تهٔ زما بادشاه شه، ما خپلې کوټې ته بوځه.

ښځې

اے بادشاه مونږ ښومره ستا دپاره خوشحاله يونه،

د ميو نه زيات مونږ ستا د مينې صِفت کوونه.

محبوبه

دا رښتيا دی چې پېغلې په تا مئينې دينه.

٥ زهٔ خو توره يمه خو ښُکلې يمه،

اے د يروشلم جينکو،

د قيدار د خېمو په شان توره يمه

او د سليمان د خېمې د پردو په شان توره يمه.

٦ ما ته مهٔ ګورئ ځکه چې زهٔ غنم رنګه يمه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما ځرمنه نمر توره کړې ده.

زما ورونړه ما سره وران وونه

او په زبردستئ سره هغوئ

په ما د خپلو انګورو خيال ساتلو.

نو بيا ما خپل خيال ونۀ ساتلو،

او نۀ مې د خپل انګور خيال وکړلو.

٧ ما ته ووايه، زما جانانه،

تۀ به نن خپله رمه ځرولو له چرته بوځې؟

او تۀ خپلې ګډې په غرمه کښې

د دمې دپاره چرته راغونډوې؟

نو بيا زۀ ولې برقعه په سر سرګردانه شمه

او ستا د ملګرو په رمو کښې درپسې وګرځمه

محبوب

٨ اے په ټولو پيغلو کښې ښائسته محبوبې، کۀ چرې تا ته دا پته نۀ وينه،

نو د رمو د پښو ښاپونو پسې شه روانه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپل چېلی دې د شپانو د خېمو په خوا کښې
وڅروونه.

۹ زما محبوبې، تهٔ په ما دومره ګرانه یئه،

لکه د فِرعون د شاهی آسپې په شان ښائسته یئه.

۱۰ ستا اننګی څومره ښائسته دینه،

او هغه ستا د غوږونو والو سره ځلیږینه.

او ستا غړی څومره ښائسته ده،

او د سرو سره څومره ښُکلې ښکارینه.

۱۱ خو مونږ به د سرو زرو والۍ درته

او د سپینو زرو مرۍ جوړې کړونه.

محبوبه

۱۲ کله چې زما شهزاده خپل کټ کښې آرام کولونه،

نو زما د عطرو په خوشبوئۍ کښې نشه نشه شونه.

۱۳ زما جانان د مُر زونډے دینه،

زما په سینه پروت دینه

۱۴ زما جانان د عین‌جدی د انګورو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باغونو کښې د نکریزو د ګل په شان دېنه

محبوب

۱۵ زما محبوبې، تهٔ ښکلې يې.
تهٔ ډېره ښائسته يې، تهٔ ډېره حسينه يې،
سترګې دې د ګوګوشتکو په شان ښُکلې دينه.

محبوبه

۱۶ تهٔ ډېر ښُکلے يې زما جانانه،
تهٔ ډېره زړهٔ وړونکے يې،
شنه ګياه به زمونږ بستره وينه.

۱۷ د دِيار لرګی به زمونږ د کور وی تيرونه،
او د خوشبوداره دِيار لرګی زمونږ د کور دی تيرونه،
او د دِيار ونه به زمونږ د کوټې چت وينه.

۲ ۱ زهٔ لکه د شارون د ګلاب په شان يمه،
او په پټو کښې د لاله د ګل په شان يمه.

محبوب

Copyright material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ لکه چې په ازغو کښې د لاله ګل وينه،

زما محبوبه د پېغلو په مينځ کښې داسې وينه.

محبوبه

٣ لکه د سيب د ونې په شان په ځنګل کښې

زما جانان د نورو زلمو په مينځ کښې دينه.

د هغهٔ د سورى لاندې په کښېناستو ډېره خوشحالېږمه،

او زما په خولهٔ د هغهٔ مېوې خوږې لګېږينه.

٤ هغهٔ زهٔ د خپل ځان سره د مېلمنو هال ته روانه کړمه،

او زهٔ يې په خپله مينه کښې ونغښتلمه.

٥ د کشمشو سره يې ما ته طاقت راکړلو،

او د سيوانو سره يې زهٔ تازه کړمه،

ځکه د مينې په وجه مړاوې شوې ومه.

٦ د هغهٔ ګس لاس زما د سر لاندې وونه،

او د هغهٔ ښى لاس ځانته راغاړه ايستمه.

٧ اے د يروشلم جينکو، ما سره ټينګه وعده وکړئ،

ترڅو چې مونږ پراتهٔ يونه مونږ به نهٔ په عذابوئينه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دویم سرود

محبوبه

۸ وګوره، چې جانان مې راروان دېنه،

هغه په غرونو راخېژینه، او په غونډو ټوپونه وهینه.

۹ زما جانان لکه هوسۍ او یا د ځوان هوسۍ په شان دېنه،

وګوره هغه اوس زمونږ د دېوال شاته ولاړ دېنه،

هلته د کړکۍ د جال نه دننه کوتې ته ګورینه.

۱۰ زما جانان ما ته ووئیل،

محبوب

"زما محبوبې، راپاځه،

ښائسته محبوبې، راځه ما سره لاړه شه.

۱۱ وګوره، ژمې تېر شو بارانونه ودرېدل او بس شونه.

۱۲ په زمکه ګلونه راښکاره شونه،

د سندرو وئیلو موسم رارسېدلے دېنه،

زمونږ په مُلک کښې د ګوګوشتکو آوازونه اورېدلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کيږينه.

۱۳ د اينځر بوټو خپله وږومبۍ مېوه ونيوله،

او د انګورو بوټو د خپلو غوټو خوشبو خوره کړله.

راپاڅه، راشه، زما محبوبې، زما ښائسته محبوبې،

راځه ما سره لاړه شه.

۱۴ زما ګوګوشتکې په کمر کښې د ګټانو شاته

خپل ځان پټ کړے دينه.

زۀ ستا مخ ليدل غواړمه،

او ستا آواز اورېدل غواړمه.

ځکه چې ستا آواز خوږ دينه،

او ستا مخ ښائسته دينه.

۱۵ لومبړې ونيسه، وړې لومبړې ونيسه،

هسې نه چې هغوئ د انګورو باغ تباه کړينه،

ځکه چې زمونږ د انګور بوټو غوټۍ نيولې دينه.“

محبوبه

۱۶ جانان زما او زۀ د جانان يمه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه چې د لاله په ګلونو کښې مزې کوينه.

١٧ د سحر رڼا نه وړاندې زما جانانه،

چې شپه په ختمېدو شی، ما نه لاړ شه جانانه،

لکه د هوسۍ او يا د تکړه هوسۍ په شان په کاڼيزه

غرونو باندې ما نه په ټوپونو او مستۍ سره لاړ شه.

# ٣

١ ټوله شپه کله چې زۀ په خپل کټ کښې پرته ومه،

د چا سره چې زۀ مينه کوم ما د هغۀ لټون وکړونه،

خو هغه رانۀ غلونه.

٢ خو بيا ما خپل ځان ته ووئيل،

زۀ به پاڅېږمه او ټول ښار به ولټومه،

د هغه چا پسې به په چوکونو

او سړکونو کښې وګرځېږمه

چا سره چې زۀ مينه کومه.

نو زۀ ورپسې ښۀ وګرځېدمه

خو پيدا مې نۀ کړونه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ چوکيدارانو زۀ ودرولمه،

کله چې هغوئ په ښار کښې ګرځېدل.

ما د هغوئ نه تپوس وکړلو،

”ولې تاسو هغه کس ليدلے دېنه

چا سره چې زۀ مينه کومه؟“

٤ نو چې د هغوئ نه لږ وړاندې لاړمه

ما خپل جانان پېدا کړونه.

هغه مې راټينګ کړونه

او تلو ته مې پرې نۀ ښودلونه

او ما هغه د خپلې مور کور ته راوستونه

هغې کوټې ته په کومه کښې چې زۀ د مور

په ګېډه شوې ومه.

٥ اے د يروشلم جينکو، ما سره ټينګه وعده وکړئينه،

ترڅو چې مونږ پراتۀ يونه مونږ به نۀ په عذابوئينه.

## دريم سرود

محبوبه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ چې د لوګی د ستن په شان دے هغه څوک دینه

هغه زمونږ طرف ته راروان دېنه؟

چې فضا یې په مُر او لویانو خوشبوداره کړې ده نه،

او د سوداګرو په عطرو باندې خوشبوداره کړې ده نه؟

۷ دا د سلیمان ګاډۍ ده وګورئینه،

چې ورسره شپېته تکړه کسان

په پرګله کښې راروان دینه،

د بنی اِسرائیلو د ټولو نه ښهٔ فوجیان ورسره دینه.

۸ هغوئ ټول په تُورو باندې سمبال دینه،

او په جنګ کښې هم ماهر دینه،

هر یو سره په ترخ کښې تُوره ده،

او هغوئ په شپه کښې د بادشاه د

حفاظت کولو جوګه هم دینه.

۹ سلیمان بادشاه شاهی ګاډۍ ځان دپاره

د لبنان د دِیار د لرګو نه جوړه کړې ده نه.

۱۰ د هغې ستنې هغهٔ د سپینو زرو نه جوړې کړې دینه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغې چت يې د سرو زرو نه جوړ کړے دېنه،

او د هغې بالښتونه کاسنی دينه.

هغه د يروشلم د پېغلو په مينې سره ښائسته شوې وه نه.

١١ اے د يروشلم پېغلو راشئ کنه،

او سليمان بادشاه وګورئينه

هغۀ هغه تاج په سر کړے دېنه

کوم چې د وادۀ په ورځ مور ورکړے وونه،

ډېره د خوشحالۍ ورځ وه د هغۀ د ټولو نه.

## محبوب

۴ ١ اے محبوبې، تۀ ښومره ښائسته ينه.

تۀ ښومره نازنينه ينه.

د نقاب نه شاته ستا سترګې ګوګوشتکې دينه.

ستا زلفې وَل وَل لکه د چېلو د رمو په شان دينه،

چې د جِلعاد د غرۀ نه لاندې راکوزيږينه.

٢ ستا غاښونه د سپينو ګډو په شان دينه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تازه ترې نه وړې اخوا شوې وينه،

او تازه لمبولے شوے وينه.

هر يو غابښ دې د بل سره جوړه دينه،

يو هم کنډم شوے نهٔ دينه

٣ شونډې دې تکې سرې دينه،

خولهٔ دې ډېره ښُکلې ښکارينه.

ستا اننګې د نقاب شاته لکه د ګلابی انار ځليږينه.

٤ ستا غړۍ دومره ښائسته ده لکه د داؤد د ښار مناره،

چې د زرګونو بهادرانو په ډالونو باندې شوې وی سينګاره.

٥ ستا سينې لکه د هوسو د جوړه بچو په شان دينه،

چې د لاله په ګلونو کښې څرېږينه.

٦ د دې نه وړاندې چې د سحر باد ولګيږينه

او د شپې تيارهٔ چې په ختمېدو شينه،

زهٔ به د مُر غر ته ورمنډه کړمه

او د لوبانو غونډو ته به لاړه شمه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ زما محبوبې، ستا ښائست کامِل دېنه،

په تا کښې هيڅ عيب نشته دېنه.

٨ زما ناوې، د لبنان نه ما سره راشه،

د لبنان نه ما سره راشه.

د امانه د غرۀ د څوکو نه راکوزه شه،

د حرمون او د سنير د څوکو نه ما سره راکوزه شه،

د زمرو د غارونو او د پړانګانو د غونډو نه راکوزه شه.

٩ اے زما دُنيا، اے زما ناوې، زما نه دې زړۀ وړے دېنه،

د سترګو په يوه اِشاره دې ما نه زړګے وړے دېنه،

او د اميل يو غمی دې ما نه زړګے وړے دېنه.

١٠ زما دُنيا، زما ناوې زۀ ستا په مينه کښې څومره خوشحاله يمه،

د ميو نه څومره خوشحالونکی ده ستا مينه،

او ستا خوشبو د هرې مصالحې نه څومره ښۀ ده.

١١ زما ناوې، ستا د شونډو نه د شاتو د ګبين په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان خوږوالے راڅاخيږينه،

ستا د ژبې لاندې شات او پئ پراتۀ دينه،

ستا د جامو نه لکه د لبنان د ډيار په شان خوشبو راځينه

۱۲ اے زما محبوبې، تۀ زما بنده باغيچه ينه،

تۀ زما دُنيا ينه، او زما ناوې ينه،

زما پټ باغ، زما پټه چينه ينه،

۱۳ تۀ لکه د انارو باغيچه ينه،

د مزېدارو مېوو نه ډکه ينه،

او خوشبو دې لکه د مشکو او عنبرو په شان ده نه،

۱۴ چرته چې د مشکو، زعفرانو، دارچينو

او هر قسمه مصالحو بوټی پيدا کيږينه،

او عُود، مُر او لوبانو خوشبوداره عطر پيدا کيږينه.

۱۵ تۀ د باغ چينه ينه،

تۀ د تازه اوبو کوهے ينه

چې د لبنان د غرونو نه رابهيږينه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

محبوبه

١٦ اے د شمال باده، راوالوځه،

اے د جنوب باده راشه،

زما په باغ باندې راوالوځه

او د هغهٔ خوشبو هرې خوا ته خوره کړه.

زما جانانه خپل باغ ته راشه،

او د هغې ښُکلې مېوې وخوره.

محبوب

٥ ١ زما دُنيا، زما ناوې، زهٔ په خپل باغ کښې

داخل شوے يمه.

زهٔ د مُر چيړ او خوشبوداره مصالحې راټولومه.

ما خپل ګبين د شاتو سره وخوړلونه،

او زهٔ خپل پئ او مے څښمه.

ښځې

اے عاشقانو، وخورئ او وڅښئينه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د مینې نه مست شئینه.

## څلورم سرود

محبوبه

٢ زۀ اودۀ ومه خو زما زړۀ بېدار وونه،

غوږ شه. زما جانان ور ټکوینه.

”زما د زړۀ دُنیا او محبوبې ور کولاو کړه،

زما ګوګوشتکې، زما بېعیبه مینې.

محبوب

زما سر په شبنم باندې لوند دېنه،

او د شپې پرخې مې ویښتۀ لوندۀ کړی دینه.“

محبوبه

٣ ما خو جامې ویستلې دینه،

نو دا بیا دوباره واچوم څۀ؟

ما خپلې پښې وینځلې دینه،

بیا دا دوباره په خاورو ګنده کړم څۀ؟

٤ زما جانان خپل لاس په ور کښې راوړد کړونه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو زما زړهٔ د هغهٔ دپاره په درزېدو شونه.

٥ نو زهٔ راپاڅېدم چې خپل جانان ته ور کولاو کړمه.

زما د لاسونو نه عطر په څڅېدو شونه.

زما د ګوتو نه د مُر چیړ په څڅېدو شونه

کله چې ما د ور کُنډه راښکله.

٦ ما خپل جانان ته ور کولاو کړونه،

خو هغه بیا تلے وو، نو زهٔ سخته پرېشانه شومه،

ما هغه ولټولو، خو هغه مې پېدا نهٔ کړونه،

ما هغهٔ ته آواز وکړونه،

خو هغهٔ ما ته جواب رانهٔ کړونه.

٧ کومو څوکیدارانو چې په ښار کښې ګشت کولونه

نو هغوئ زهٔ ونیولم، هغوئ زهٔ ووهلمه

او په وهلو یې تکه شنه کړمه،

او د ښار د دېوالونو چوکیدارانو

زما د مخ نه پلو اوچت کړونه.

٨ اے د یروشلم ښځو، ما سره دا وعده وکړئینه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کهٔ چرې تاسو زما جانان وليدلو، هغهٔ ته ووائينه

چې زهٔ د هغهٔ د مينې په وجه کمزورې شوې يمه.

ښځې

۹ اے په ټولو پېغلو کښې ښائسته جينۍ، ستا جانان

د نورو سړو نه کوم خاص خصوصيت لرينه؟

په هغهٔ کښې داسې څهٔ خاص دينه،

چې مونږ تا سره دا لوظ وکړونه؟

محبوبه

۱۰ زما جانان سور سپين دېنه،

او په لسو زرو کښې د ټولو نه اعلیٰ دېنه.

۱۱ د هغهٔ سر د سوچه سرو زرو دېنه،

د هغهٔ وېښتهٔ وَل وَل دينه،

او لکه د کارغهٔ په شان تور دېنه.

۱۲ د هغهٔ سترګې د ګوګوشتکو په شان دينه

چې د اوبو د چينو په خوا کښې وينه

سپينې ګوګوشتکې لکه د پئيو په شان چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تالاب په خوا کښې ناستې وينه.

١٣ د هغهٔ اننگی د باغ په شان دينه،

چې د خوشبودارو بوټو نه ډک وينه.

د هغهٔ شونډې د لاله د گل په شان دينه،

لکه چې د مُر په چيړ خوشبويه شوې وينه.

١۴ د هغهٔ لاسونه د سرو زرو سيخونه دينه،

چې په دې کښې قيمتی کانی لگېدلی وينه.

د هغهٔ بدن لکه د هاتی د غاښونو په شان سپين دېنه،

او چې په کښې نيلم کانی لگېدلی وينه.

١۵ د هغهٔ پښې د سنگِ مرمرو د ستنو په شان دينه

چې په سرو زرو کښې لگولے شوې وينه.

د هغهٔ شکل د لبنان د غرونو د خاص دِيار په شان ښکارينه.

١۶ هغه ډېره خوږه خولهٔ لرينه،

هغه په هر لحاظ زړهٔ راښکونکے دېنه،

نو، اے د يروشلم ښځو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما جانان او زما آشنا دغه شان دينه.

ښځې

# ۶

١ ستا جانان چرته لاړونه،

په ټولو پيغلو کښې ښائسته جينۍ؟

ستا جانان چرته تلے دينه؟

چې مونږ تا سره د هغهٔ تلاش وکړونه؟

محبوبه

٢ زما جانان خپل باغ ته راغلے دينه،

خپل د خوشبويانو کټ ته،

چې خپله رمه په باغونو کښې وڅروينه،

او د لاله ګلونه ترې نه راټول کړينه.

٣ جانان زما او زهٔ د جانان يمه،

هغه چې د لاله په ګلونو کښې مزې کوينه.

## پينځم سرود

محبوب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ زما محبوبې، تهٔ لکه د ترِضاه د ښار په شان ښائسته یئه.

آو، لکه د یروشلم په شان ښائسته یئه،

او په یو ځل لیدو دې ما نه زړګے ورړے دیئه.

۵ سترګې دې ما نه واړوه،

ځکه چې زهٔ یې بېوسه کړے یمه.

ستا زلفې وَل وَل لکه د چېلو د رمو په شان دینه،

چې د جلِعاد د غرهٔ نه لاندې راکوزیږینه.

۶ ستا غاښونه د سپینو ګډو په شان دینه،

چې تازه ترې نه وړۍ اخوا شوې وینه،

او تازه لمبولے شوے وینه.

هر یو غاښ دې د بل سره جوړه دینه،

یو هم کنډم شوے نهٔ دینه.

۷ ستا اننګې د نقاب شاته لکه د ګلابی انار ځلیږینه.

۸ په شپېتو مَلِکو او په اتیا وینځو کښې

او په بېشمېره پېغلو کښې،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ خو زۀ به بیا هم خپله ګوګوشتکه خوښومه،

زما کامله مینه، د خپلې مور ډېره خوښه ده نه،

او د هغه چا ډېره نیازبینه چا چې زېږولې ده نه.

پېغلې هغه وینی او د هغې صِفت کوینه،

تر دې چې شهزادګۍ او شاهی وینځې

د هغې د صِفت سندرې وائینه.

۱۰ ”دا څوک ده چې لکه د سحر د رڼا په شان راوچتیږینه،

لکه د سپوږمۍ په شان ښائسته، او د نمر په شان ځلیږینه،

او په یو ځل لیدو دې ما نه زړګے وړے دینه.“

۱۱ زۀ د غوزانو باغ ته لاړمه

او وادۍ ته د ګلونو د غوټو سیل ته لاړمه،

د انګورو د ځیلو راټوکېدل ووینمه

او چې انارو ګلونه کړی دی کۀ نه

۱۲ زۀ په خپل ځان نۀ پوهېدمه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د عشق نه رپېدمه

لکه چې په شاهی ګاډۍ کښې سور يمه

ښځې

۱۳ واپس راشه، مونږ ته راواپس شه، اے د شولم پېغلې.

واپس راشه، واپس راشه چې مونږ تا دوباره وګورونه.

محبوب

تاسو د شولم دې پېغلې ته ولې ګورئينه

کله چې هغه د ګډېدونکو د دوه صفونو

په مينځ کښې ډېره ښائسته ګډېږينه؟

محبوب

۷ ۱ ستا پښې په څپلو کښې څومره ښُکلې ښکارينه،

اے د شهزادګۍ لورې.

ستا غونډې پتونونه د قيمتی کاڼو په شان دينه،

لکه چې دا يو ماهر زرګر جوړ کړی وينه.

۲ ستا نوم د يوې پيالۍ په شان دېنه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه چې د خوشبوداره میو نه ډکه وینه.

ستا پښې لکه د غنمو د ګېډۍ په شان دینه

چې ګېرچاپېره ترې نه د لاله ګلونه راتاو شوی وینه.

۳ ستا سینې لکه د هوسو د جوړه بچو په شان دینه،

۴ ستا غړۍ لکه د هاتی د غاښونو نه جوړه شوې
میناري په شان ښائسته ده نه.

ستا سترګې د حسبون ښار د ځلېدونکو تالابونو په شان
دینه،

کوم تالابونه چې د دې ښار د بیت‌رابیم دروازې سره
دینه.

ستا پوزه د لبنان د برج په شان ښائسته ده نه

چې د دمشق ښار ترې نه ښکارینه.

۵ ستا سر لکه د کرمل د غرهٔ په شان اوچت دینه،

ستا د زلفو ښائست لکه د شاهی ګُلکارۍ په شان دینه

تر دې چې بادشاهان هم ستا د کمځو د ولونو بندیوان
دینه.

۶ اے محبوبې، تهٔ څومره ښُکلې او حسینه ینه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ ځومره د خوشحالو نه ډکه ينه.

٧ ستا قد او قامت د کجورې د ونې په شان دېنه،

او ستا سينې د مېوو د غونچو په شان دينه.

٨ ما وئيل زهٔ به د کجورې ونې ته وخېژمه

او کجورو ته به يې لاس ورورېمه.

ستا سينې دې د مېوو د غونچو په شان وينه،

او ستا د خولې خوشبو دې لکه د سيوانو په شان وينه.

٩ او ستا شونډې د اعلیٰ ميو په شان دينه.

نو دا مے دې زما د جانان په غاښونو

او شونډو باندې په نرمۍ سره وبهيږينه.

محبوبه

١٠ زهٔ د خپل جانان يمه،

او د هغهٔ زړهٔ ما غواړينه.

١١ زما جانانه راشه، راځه چې بهر پټو ته لاړ شُو نه

او هلته په کلی کښې شپه تېره کړو نه.

١٢ راځه چې سحر وختی پاڅيږونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د انګورو باغونو ته لاړ شونه

چې د انګورو د ځیلو راټوکېدلووینو

او چې انارو ګلونه کړی دی کهٔ نه،

هلته به زهٔ خپله مینه تا ته وښایمه.

۱۳ هلته به د مړه غونو بوټو خپله خوشبو راپرېښې وینه،

او د ټولو نه ښې مېوې به زمونږ دروازې سره وینه،

نوې او زاړهٔ خوندونه،

جانانه کوم چې ما ستا دپاره ساتلی دینه.

# ۸

۱ اے کاش چې تهٔ زما دپاره لکه د وروړ په شان وینه،

چا چې ما سره د مور په سینه خولهٔ ایښې وینه.

نو کله چې تهٔ ما په لار کښې لیدلے نه

نو ما به تهٔ ښکلولے نه

او چا به هم په ما باندې اِعتراض کولو نه.

۲ ما به تهٔ د خپل ماشومتوب کور ته راوستے وینه،

او هلته به تا ما ته سبق ښودلے ووِنه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما به درته د ښکلو دپاره مزېدار مے درکړى وُونه،

د خپلو خوږو انارو شربت به مې درکړے وونه.

۳ ستا ګس لاس به زما د سر لاندې وونه،

او ستا ښى لاس به ځانته راغاړه ايستمه.

۴ اے د يروشلم پېغلو، ما سره وعده وکړئينه،

مينه مهٔ رابېداروئينه، ترڅو چې يې ونهٔ غواړينه.

## شپږم سرود

ښځې

۵ دا د صحرا نه څوک راروان دے نه،

چې خپل سر يې د محبوبې په اوږه باندې اېښے دينه؟

محبوبه

زهٔ تا د سيب د ونې لاندې راپاڅومه،

په کوم ځائ کښې چې تهٔ خپلې مور زېږولے ينه،

چرته کښې چې په ډېر تکليف هغې تهٔ زېږولے ينه.

۶ زما مينه په خپل زړهٔ باندې لکه د مهر په شان ولګوه

نه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په خپل لاس باندې ما لکه د مهر په شان ولګوه نه.

ځکه چې مینه لکه د مرګ په شان زورَوره ده نه،

او د هغهٔ غېرت تر عالمِ ارواح پورې رسیږینه،

او د مینې د اور شُغلې ډیرې زورَورې دینه.

٧ ډیرې اوبهٔ د مینې اور مړ کولے نهٔ شینه،

او نهٔ سېلاب دا وړلے شینه.

کهٔ څوک غواړی چې په خپل ټول مال دولت سره مینه
په بیعه واخلینه

خو د هغهٔ قیمت به د مینې په مقابل کښې حقیر
وشمېرلے شینه.

دوستان

٨ زمونږ یوه وړه خور ده نه،

او لا تر اوسه د هغې سینې شوې نهٔ دینه.

کهٔ څوک د هغې غوښتلو له را شینه

نو مونږ به څهٔ کوُو نه؟

٩ کهٔ هغه لکه د یو دېوال په شان پېغله وے نه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو مونږ به د هغې د سپينو زرو د برج سره حفاظت
کړے ونه.

او کۀ هغه يوه دروازه وے نه،

نو مونږ به ورته د دِيار تختې لګولے وے نه.

محبوبه

١٠ زۀ د يو دېوال په شان پېغله ومه،

او اوس زما سينې لکه د برجونه په شان دينه.

کله چې زما جانان ما ته ګورينه،

نو هغه زما په کتلو باندې خوشحالېږينه.

١١ د سليمان په بعل هامون کښې د انګورو يو باغ وونه،

کوم چې هغۀ ماليانو ته په اجاره ورکړے وونه،

هر يو به ورله زر د سپينو زرو سيکې ورکولے نه.

١٢ خو زما د انګورو باغ زما دے چې چا له يې ورکومه،

سليمانه، ما له د سپينو زرو زر سيکې مۀ راکوه نه،

خو زۀ به هغه چا ته د سپينو زرو دوه سوه سيکې
ورکړمه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې زما د باغ د مېوو خیال ساتینه.

محبوب

۱۳ زما محبوبې، تهٔ چې په باغ کښې ژوند کوینه،

زما دوستان په دې انتظار کښې دینه

چې ستا آواز واورینه.

خو پرېږده چې زهٔ واورمه

محبوبه

۱۴ زما جانانه، زر په منډه راشه،

او یا لکه د هوسۍ او د ځوان غرڅهٔ په شان راشه

خوشبوداره غونډو ته راشه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.